Preview (1 / 10) - ketabton.com

ناول: بغدادي جنۍ

لیکوالانې: باربارا‌کهن او بهیه لاوجوی

ژباړن: خواجه زي

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0

Preview (2 / 10) - ketabton.com




@Shuhab09

Preview (3 / 10) - ketabton.com

"بِسِمٌ أٓآأللّٓهِ أٓآألٓرِحٓمٓنْ أٓآألٓرِحٓيم"

دا کیسه د یو ولسي روایت پر بنسټ لیکل شوې چې له ډېر پخوا، شاوخوا د پنځمې پېړۍ راهیسې د عراق او بین النهرین په خلکو کې خوله په خوله روایت کېده.

هغه څه چې تاسو به راروان صفحو د ناول کې لولئ، هغه خبرې دي چې ډېر کلونه مخکې پوران، د بغداد د یوه غریب دوکاندار لور، پخپله لیکلې دي، تر څو د هغې اولادونه، بیا د هغې د اولادونو او لادونه او ټول هغه ماشومان چې وروسته به نړۍ ته راځي، د هغې د سترې او نوموتې کورنۍ د جوړېدو له کیسې خبر شي.

حیرانوونکې خبره دا ده چې هغې دا ټول کیسه په خپل لاس په ښکلې عربي خط لیکلې، ځکه چې د هغې پلار د هغه وخت د دود او رسم خلاف چې انجونو ته به یې لوستل او لیکل نه ور زده کول هغې ته لوستل او لیکل ور زده کړي وو.
نو کوم لیکنه چې مخ ته مو راځې ښه په دقت ولولئ او د خدای د قدرت او حکمت حیرانوونکې نښې په ښه ډول وګورئ.

***

زه پوران یم، د مالک او زبیدې د اووه لوڼو څخه څلورمه لور. زما پلار ته خلکو د ابوالبنات (د لوڼو پلار) لقب چې چندان د ویاړ لقب نه بلل کېده ورکړی وو.
خدای داسې پرېکړه کړې وه چې هغه ته زوی یا زامن ورنکړي، او هغه څه چې وروسته زموږ سره وشول، له همدې ځایه پیل شول.

Preview (4 / 10) - ketabton.com

آه زما اولادونو! د خدای اراده د انسان له پوهې او درک څخه لوړه ده.هغه څه چې مور یې رحمت ګڼو، کېدای شي عذاب وي، او هغه څه چې مور یې عذاب ګڼو، کېدای شي رحمت وي. د حیرانوونکو پېښو لړۍ کوم چې غواړم تاسو ته یې کیسه وکړم د هغه شپې څخه پیل شوه چې زه له خپل پلار سره د کور په انګړ کې ناسته وم او د شطرنج لوبه مو کوله.

هغه شپه د پسرلي شپه وه. د یاسمین د ګلانو بوی هوا ډکه کړې وه او لمر تازه لویدلې وو، څنګه چې مور د شطرنج مهرې یو په یو خوځولې، د لمر وروستۍ وړانګې هم له اسمانه ورکېدې.

سپوږمۍ لا د افق له شا څخه نه وه راختلې. زما خویندو د کور د کوچنیو کړکیو پردې لږ پرانیستې وې. د کور دننه د تیلو د څراغونو رڼا لږ د انګړ خواته راتلل خو زمور د شطرنج تخته له کړکیو څخه لرې وه، نو هېڅ رڼا پرې نه لګېده. هوا کرار،کرار دومره تیاره شوه چې نور مو مهرې سمې نه لیدلې.

پلار مې د شطرنج مهرې یوې خوا ته وغورځولې او ویې ویل: بس دی لورې، د نن لپاره کافي ده. منم چې ته ګټونکي یې.
ما وویل: خو پلاره، ما خو تاسو ته لا "کیش" هم نه دی درکړی. (په شطرنج کې "کیش" یا (Check) هغه حالت ته وایي چې پکې د یو لوبغاړي پاچا (King) د مقابل لوري د یوې مهرې له خوا مستقیم و ګواښول شي)

پلار مې وخندل او ویې ویل: څه فرق کوي؟ څو حرکتونه وروسته به ته بیا ما ته کیش راکوې او بیا به مې ماتوی، کاش چې دا لوبه مې درته نه وای ښودلې. مور دې راته ډېر خبرې وکړل، ویل یې نجلۍ ته د نارینو لوبي زده کول نه دي پکار او د شطرنج پر ځای باید د ستن او تار کار زده کړي.

ما په ارامه وویل: آه پلاره! خوشحاله یم چې د هغې خبره مو وانه وریده.

Preview (5 / 10) - ketabton.com

پوهېدم چې پلار مې هم خوشحاله دی. هغه له شطرنج سره مینه لرله، ځکه دا لوبې ورته لړه هوسايي ورکوله، تر څو د هغه دومره زحمت څخه چې هره ورځ یې زموږ د لوی کورنۍ لپاره ایستلو لږه دمه وکړي.

پلار مې نه زوی درلود او نه هم وخت چې بازار ته لاړ شي او له خپلو ملګرو سره شطرنج وکړي، نو دا لوبه یې ما ته را زده کړې وه.

هغه زه شاید د دې لپاره غوره کړې وم چې تنبله وم، او د کور کارونه کوم چې مور مې راته سپارل سم مې نشو تر سره کولای. نو ځکه پلار مې ګومان کاوه که زه د کور کار ونکړم کوم ستونزه به مې مور ته راپیښ نشي او هغه به جنجال ونکړي. یا شاید د دې لپاره یې غوره کړې وم چې د خویندو په منځ کې مې یوازې زه وم چې له زړه مې د زده کړې سره شوق درلود.

پر ځمکه کیناستم تر څو د شطرنج خواره شوې مهرې راټولې کړم. په همدې وخت کې مې د کوڅې له شا د څو کسانو خبرې واورېدې چې زموږ د کور مخې ته تېرېدل. بیا د هغوی قدمونه زموږ د دروازې مخې ته ودرېدل. د دروازې له درز مې د هغوي د څراغ رڼا ولیده چې د هغوي په کالو خپره شوی وه، هغه لاری،لاری کالې چې اوس وخت په بازار کې د قیمت ترینه ټوکرانو څخه په حساب راتلل، د پلار د څه ویلو مخکې پوهه شوم چې د دروازی شاته څوک دی.

پلار مې په امر کوونکي لهجې وویل: ځه دننه لاړه شه، مور ته دې هم ووایه چې شلمبې یا کوم بل څه تیار کړي.

بیا یې ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: ستا کاکا له خپلو زامنو سره زموږ لیدلو ته راغلی دی.

او بیا یې "اه" وویست دا ځل د پلار "اه" مې له زړه د تل څخه وو.

Preview (6 / 10) - ketabton.com

زمونږ کور کوچنی و. پلار مې مجبور و تر څو چې مور مې لږ شلمبې یا خواږه تیاروي، میلمانه په انګړ کې تم کړي.

مور مې په ګیله مند انداز وویل: په دې فقر کې د میلمستیا نندارہ څه معنا لري؟ زمونږ ټول هست او نیست همدا دی.

مور مې رښتیا ویل، بیا یې په خپه لهجه دوام ورکړ:
– ستا کاکا باید ډېر بې‌پروایي وي چې د خپل ورور کور ته راځي. هغه تر ټولو ښه پوهېږي چې مونږ ښه مېلمستیا نه شو ورکولای. ولې لکه د تل په شان د پلار دوکان ته دې نه دی تللی؟

کله چې شلمبې او خواږه تیار شول، زه، مور او خویندې مې بلې کوټې ته ولاړو او دا کوټه مو کاکا او د هغه زامنو ته پرېښودل، بل کوټې ته د تللو سره سم خویندو مې ژر خپل په ګنډلو، اوبدلو، خبرو او غیبت کولو بوختې شوې. زه حیرانه وم چې هغوی چې نه بهر ځي او نه څوکویني، دا دومره خبرې له کومه خوا پیدا کوي؟!
خو کله چې مې لیدل چې زه شپه او ورځ د هغوي، خپل او د کورنۍ د ټول غړو د راتلونکي په اړه فکرمنده او اندېښمنه یم، خو هغوی هېڅ غم نه لری نو لږ بخیلي راتلل.

خویندو مې تل ویل: خدای روزي رسوونکی دی، خدای روزي رسوونکی دی.
او بیا به په خپلو کارونو، خبرو او کیسو کې بوختېدل. هغوی له خپل حاله راضي وې. کله کله به مې زړه غوښتل چې ای کاش زه یو بل څوک وای. کاش د خپل کاکا زامنو حسن یا علي پر ځای وای.

په هغه شپه کاکا او د هغه دا دواړه زامن زما د پلار لیدو ته راغلي وو. زه د دروازې د پردې تر څنګ ودرېدم او د پلار، کاکا او د هغه د دوو زامنو خبرې مې اورېدې.
دا کار سم نه و، خو زه ورباندی عادت شوې وم. حتی مور او خویندو مې هم نور

Preview (7 / 10) - ketabton.com

راته په دې اره څه نه ويل. هغوی هم خوشحالېدې ځکه د خبرو اورېدلو وروسته به مې هر څه هغوی ته هم ويل.

پلار مې داسې حال کې چې خپل ورور او وراره ګان د انګړ څخه تر کوټې راويستل په احترام او درناوی وويل: خپل په راتګ مو زموږ حقيره کوټه ښکلې کړل.
کاکا مې وويل: د لوړو پلار! زموږ راتګ بې دليله نه دی.

د هغه مغرور او ريشخند لرونکې لهجې تل ځورولم.
عجيب وه راته، پلار مې څنګه د هغه سره دومره په ادب چلند کوي، او د هغه له ليدلو خوشحالېږی؟ بغير د ترديد ويلې شم چې د پلار دا محترمانه رفتار د دی لپاره نه و چې خپل د ورور څخه د مرستي غوښتنه ولری يا په اصطلاح چاپلوسي وکړی، نه هېڅکله هم نه ... که څه هم کاکا مې د رښتيا هم شتمن و او که زموږ د اوو خويندو لپاره يې د کور ټول وسايل او د واده مصارف هم ورکړی وای بيا هم هېڅ ورڅخه نه کمېدل.

خو پلار مې د هغه د شتمني لپاره د هغه عزت نه کاوه. پلار مې د هر چا سره همداسې په ادب او درناوی چلند کاوه. هغه ته فرق نه درلود چې د غريب سوالګر سره خبرې کوي، يا که د بغداد د شتمن تاجر سره. خو کاکا مې د پلار د دې خاصيت څخه نه و خبر.

زما کاکا د دې خبرو څخه نه و خبر، هغه يوازې د خپلې شتمنۍ له امله خلکو ته ځان ښوولو عادت کړی و، هغه ګومان کاوه ټول کسان د هغه چاپلوسي کوی ځکه چې پيسې لری او همداسی هم وه، بغير زما د پلار څخه ټولو خلکو زما د کاکا احترام په همدی خاطر کاوه تر څو د هغه څخه يو شئ ترلاسه کړی خو زما پلار داسې نه و.

پلار مې په ټينګار وويل: مهرباني ورور جان کېنئ. مخکې له دې چې د راتګ علت ووایاست، لږ شلمبې(تروی) وڅښئ.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

پلار مې هېڅکله کاکا ته «د زامنو پلار» یا «ابو حسن» نه ویل، بلکې یوازې به یې ورته «ورور جان» ویل. دا یوازینی لفظ و چې پلار مې ورباندی نرم نیوکه کول، خو ګومان نه کوم کاکا مې دی خبری ته پام کړی وی، ځکه هغه د ځان څخه ښکته خلکو خبرو ته ډېر غوږ نه نیوه.

ما ځان پردې ته نږدې کړ او لړ مې پرده داسې کړه کړه تر څو وکولای شم دننه کوټه وګورم. اوس مې پلار، کاکا او د هغه زامن پر بالښتونو ډډه وهلې لیدلې شول، چې د مسو څخه جوړ ګیلاسونو کې یې هغه شلمبې څښله کوم چې مور مې جوړ کړی و.

پلار مې د خوړو خواته لاس و یې نه وړو، کاکا مې هم یوازې لږ د ادب لپاره خوړو ته لاس وروړ، خو حسن او علي ټول خواړه وخوړل. هغوی نه پوهېدل چې د دوی د دې ډېر خوړلو له امله به موږ اووه خویندې د اونۍ تر اخرې باید یوازی د نخودو پر اوبو او پیازو وخت تیر کړو.

کاکا مې غاړه تازه کړل او ویې ویل: واوره د لوڼو پلاره، حسن ستا مشر وراره دی، هغه د کورنۍ د مسوولیت څخه ښه خبر دی. نو ځکه دلته راغلی تر څو ستا څخه اجازه واخلي. هغه سبا د سهار د لمر ختلو سره سم د کاروان سره بندر ته ځي، بیا هلته د کښتۍ له لاری اسکندریې ته ځان راسوی.

پلار مې ناڅاپه غږ پورته کړ او په وارخطایۍ وویل: اسکندریه؟ اسکندریه؟ څومره لرې ځای دی(بیا یې د حسن خواته مخ کړو) وراره! ته ولې هلته غواړی لاړ شې؟

زما هم زړه غوښتل چیغه کړم. که څه هم حسن ډېر نسه ور او خوراکې و او ټول خواړه یې خوړلي وو، خو ما د کاکا په ټولو زامنو کې د هغه سره مینه درلودل. کله چې کوچنۍ وم، حسن خپل د نورو ورونو پر خلاف چې د انجونو سره به یې لوبې نه کول هغه به زما سره پټ پټانی لوبه کوله. خو لکه څنګه چې عمرونه مو لوی شول نور مو اجازه نه لرله چې مخامخ سره ووینو. خو کله ناکله لکه د نن شپې په شان د پردې تر شا به مې هغه ته کتل.

Preview (9 / 10) - ketabton.com

اوس هغه یو ښکلی ځوان شوی و، توري سترګې، تاو، تاو وېښتان او مسکا لرونکې خوله یې لرله.

د هغه خواته مې کتل چې زما د پلار د خبرو په ځواب کې وویل: کاکا جان، زه د خپل پلار په امر اسکندریې ته ځم. هغه ماته ډېرې پیسې راکړې دي چې هلته دوکان خلاص کړم. هغه غواړي د بغداد پر ځای له دوو نورو ښارونو څخه هم ګټه واخلي.

علي په غرور سره وویل: همدا چې حسن په اسکندریه کې پخپلو پښو ودرېږي، زه به هم له دې ځایه لاړشم، البته زه غواړم د قبرس ټاپو ته لاړ شم.

کاکا مې وویل: د رښتیا چې هم زامن د خدای لوی نعمت دي. او خدای ما ته له اندازې ډېر دا نعمت راکړی دی، اووه زامن .. اووه روغ او هوښیار زامن .. د لوېو پلار، ته خو د داسې نعمت تصور هم نه شې کولای.

پلار مې په ارامه وویل: زما لوڼې ټولې ښکلې او باحیا دي. هره یوه راته د خلیفه د خزانو د ټولو جواهراتو څخه لا ډېر قیمتي دی.

کاکا مې په عاجزۍ وویل: هو، بلکل، بلکل سمه خبره ده چې ته له خپلو لوڼو سره مینه لرې. ټولې ښې نجونې دي، خو دومره لوڼې آخر څه فایده لري؟

بیا یې وخندل او یو غوړپ د خپل شلمبو څخه یې وکړ. زما بېچاره پلار هېڅ ځواب ورنه کړ. هغه څه ویلی شو؟ د بغداد ټول خلکو همدا فکر کاوه چې زما کاکا د اووه زامنو په لرو ډېر لوړ مقام لری کوم چې زما پلار د اووه لوڼو په لرو یې نه لری. زما د پلار غریبي او د کاکا شتمني دا فکر نور هم پیاوړی کړی و. او ټولو ګومان کاوه چې د رښتیا هم زامن نعمت او لوڼې زحمت دی.

علي خپل خبرو ته دوام ورکړ:
— کاکا! کله چې زه قبرس ته ورسیږم او خپل کارونه سم کړم، نو زما وروسته به زما ورور ابراهیم به صیدا ته لاړ شي. کله چې هغه هم هلته ځان ته کار جوړ کړی، بیا به

Preview (10 / 10) - ketabton.com

بل ورور، بیا بل... او همداسې به دوام وکړي. ډېر ژر به د مدیترانې د ختیځ په هر مهم ښار کې د ابو حسن د تجارت څانګې وي. او بیا به ټول مالونه او شتمني زموږ د کورنۍ لاس ته ولویږي ..

پلار مې بغیر له دې چې په خبرو کې کوم طعنه یا ریشخند پروت ویې وویل: ښه خبره ده، خو لږ ځای نور خلکو ته هم پرېږدي، هغوي به څنګه خپل د ژوند مخارج برابروي، که ټول ځای تاسو ونیسی؟

حسن چې توري سترګې یې د څراغ په رڼا کې ځلېدې وویل: اندېښنه مه کوه کاکا! زما د پلار زامن څنګه چې پیسې ګټي همغسې به یې هم مصرفوی، موږ نه غواړو په هغو ښارونو کې چې تجارت کو د غریبانو په شان ژوند وکړو. زموږ ژوند باید زموږ د مقام سره برابر وي.

پلار مې د هغه د خبرو منځ کې وغورځید او ویې ویل: ستاسو د مقام سره برابر .. نه زیات ..

حسن په مسکا وویل: او نه کم.

زه د پردې تر شا موسکۍ شوم، حسن هېڅ نه و بدل شوی، منم چې اوس هغه ماشوم هلک نخ و او لوی سوداګر جوړ شوی و، خو خپل خوش طبعي او ساده خندا یې لا هم ساتلې وه.

پلار مې د کاکا لاس ونیو او داسی حال کې چې د تندی کرښې ډېرېدل او غږ یې لکه په ستونزه چې د ستوني څخه راوځي وویل: اه ورور جانه! ته فکر نه کوې ښه به وي چې حسن مخکې له دې چې پردي ښار ته ولاړ شي او د رنګارنګ فتنو او شر سره مخ شي او ستاسو نصیحتونه هم ورسره نه وی واده وکړي؟

که څه هم د کاکا پر شونډو مې موسکا راغلل خو سترګې یې تنګې کړې او ویې ویل: د لوېو پلاره! تا خو ورته کوم مناسب جنۍ د نظر لاندی نه وی نیولې؟

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/Zgz5ffuYOU7

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.